علی سینا

۱۰ جون ۲۰۱۸

## د ګران ملګري مجید کلکاني دهیوادپالني او استعمار
## نه د خلاصون سرې کرښې هر کله په تورتمونو کښې ځلیږي.

پــه جــهان دننګيالــو دي دا دوه کــاره
یا به اوخري ککرئ یا به کامران شي



افغانستان هغه هیواد دی چې لـه بده مرغـه د پیړیو پـه لړ کښې ــ د ځانګړي جغرافیایي موقعیت له کبله ـ هر کله د یرغلګرو پام یی ځآن تـه اړولئ چې بیا هغوی د دنني تالیځتو او مریانو په مرسته ډیر ځلی او بیا ځلي زمونږپه هیواد یی یرغل کړئ دئ. دي غمیزې دا دی تر اوسه دوام پیدا کړي او زمـونږ بـی وسه ولس یی دغمونو او ویر په ټغر کینولي دئ.

که د یوی خوا دلته هر کله یرغل او بلوا دوام پیدا کړئ، خو له بلـی خوا هر کلـه او د هر راز ژوي او ویني خوړونکو ځناورو یرغلګرو پـه ضد دلتـه مقاومـت ، خپلواکي غوښتنه او دی موخوتـه د رسیدو پـه خـاطر ډیـرو قهرمـانـانو سر جګ کړئ او د نه منلو او خپلواکئ ته د رسیدلو د مینې ډکه کریکه یی داسی په ځغرده او جګ اواز یـی جګه کړې چې ټولـه نړی یی لړزولی ده.

په معاصره تاریخ کښی د مجید کلکاني نوم هغه دهیواد پالنی او خپلواکئ ته د رسیدلو علمی او انقلابی محراق ګرزیدلای چی کومي ځلانده کرښی د هیواد پالنی چی هغه د خپلو سپیځلو وینو او هلوځلو په ترڅ کی د تـاریخ پـه تندي لکیلي دي تل تر پایه به داکرښي د هیوادمینو او هیواد پلورونکو تر منځه به بیلتون راولي او دادئ دا کرښی د محک پـه تیرو بدلی شوي دي.

زمونږ هغه ګران ملګري د روسانو د "سره پوځ" د یرغل پـه وخت کښی د هغوی راتګ یـی یرغل بللئ وو او داسی سره کرښه یی په خپله توره لیکلي وه چې د افغان ولس او روسـانو او د هغوی ګوډاګیـانو تـر منځـه هیڅ کلـه آشتی او جوړښت نشته او یواځی د ګولیو سور اور کولای شي زمونږ مشکل حل کړي؛ نوهغه وو چې خپلـه تـر مخـه شـو او د سرښیندنو او انقلابی هلوځلو میدان ته یی ودانګل او افغان ولس او نړیوالوته یی اعلان وکړ چی:

روس ها از ملک ما بیرون شوید　　　ورنه غرق رودبارخون شوید

این بخارانیست، خاک آریـــــاست　　　مهد شیر و میهن شمشیرهاست

ګرانه لوستونکیه!

که چیرته یو وار په ځغلنده توګه ته د افغانستان د خپلواکۍ بخښونکي سازمان – ساما ـ لومړنۍ شب نامی ولولی، نو بیا به دهغه انقلابی ځیرتوب او ډیر روښانه لیدلورو ته هک او پک حیران شي چی څنګه روښانه هغه نه یواځی د روسي ضد علمی – انقلابی دریځ درلود چی د توري ارتجاع او نړی خور امپریالیسم – امریکا او دهغه مرستیالانو ـ په هکله یی هم شه او لمر شانته روښانه سنګر درلود.

ملګري مجید په هغه وخت کښی وړاندوینه کړی وه چی لویدیځ نړۍ خوره امپریالیسم څرنګه غواړي چی دا زمونږ هیواد چی دا دئ روسانو په خوله کړئ او غواړي چی یو مړئ یی کړي، خو له بلی خوا د امریکی امپریالیسم او سیمه ییزه ارتجاع هم غواړي چی دا مړي د روسانو دخولی یی را وباسي او هغوی یی قورته کړي.

هغه ویلی ول چی دا دواړه روسی او امریکایی یرغلګرو زمونږ ولس ته په یو شان تمه او پلمه ګوري ، دا چی دواړه یی په ظاهري بڼه او شعارونو سره توپیر لري؛ خو په اصل کښی دواړه مونږ ته یو شان دي. یویی د "سوسیالیسم" او "انترناسیولیسم" مرستو په پلمه او بل یی د دین او اسلامی مرستو په پلمه او نقاب په نامه مونږ ته یو شانته موخي او بهاني لري.

هغه دوی – امریکایانو او دهغوی مرستیالانو – سره هم د حل لیاره یواځي د توپک په خوله او ګولیو اعلانولو او ملګرو او افغان ولس یی ویښیدو او هوښیارۍ ته رابله. هغه ټولی منځنۍ او د روغی جوړي لیاري ترلي بللی او هر راز ملګرتیا او مرستیالی یی د اژدها سره ملګرتیا بلله او دواړه یرغلګر قوتونه یی نړی خواره او زمونږ وینی څښونکي بلل.

هماغه شانته چی روسانو خپل راتګ ته پلمي جوړولی تر څو افغان ولس او نړیوال د افغانستان په هکله وغولوي؛ دا دی د ۱۳۸۰ کلونو را په دی خوا چی زمونږ هیواد ته امریکایانو او د هغوی نورو ناتویی وینی څښونکو زمونږ په خاوره نظامی برید کړی دي، د دی اوه لسوکلونو په ترڅ دا روښانه او جوته شوه چی د ملګري مجید دهیوادپالنی کرښه روښانه او رښتینی ده چی هیڅکله امپریالیسم نشی کیدای چی د وروسته پاتو – او وروسته ساتل شوو – دوست او خواخوږي پاتی شي. هغوی د ډیرو پلمو او دسیسو څخه کار اخلی ترڅو وکولای شي افغان ولس او د نړی خلک وغولوي او په ظاهره شنو او زرغونو پلمو او جامو په نامه زمونږ دهیواد شتمنی او ارزښتونه په خاورو یو کړي او دوي زمونږ د وینو په پلورلو او اخیستلو ځانونه سپیڅلی او مهربانه انسانان وښیی.

دوی په دی پلمه چی مونږد تروریسم دښمنان یو او دلته دموکراسی، د بشرحقوق ، دښځو حقوق او ټولنیز عدالت واکمنوو او ډیرې ډنډورې او کیکارې یی وکړې چی مونږ دې وړي او فقیره ولس ته هوساینه ، پرمختګ او ترقي ور په برخه کوو؛ خو دا دئ د دی تیرو کلونو په ترڅ کې ولیدل شول چی دا ټول هسی پلمی او د خلکوپه سترګو خاوري شیندل ول. دوی هم لکه د روسانو په شان هر څه چی کوي او هر راز مالی مصارف چی کوي، هغه د تیر ایستلو او غولولو د پاره کوي او یرغلګر او دهغوی هیوادني مزدوران هیڅکله زمونږ رښتینی دوستان نشی کیدلای.

دا دئ دا اوس په ټول هیواد کښی ویره، تورتم، لوږه، بیکاری، ناامني، بی عدالتی، بی بازخواستی، بی قانوني او هر راز فساد خپور او ورځ په ورځ نور هم دا ناورین او بدمرغی مخ په زیاتیدو دي او ټول ولس په خپلو وینو او ویر کښی ډوب او د ژوند آخرنی سلګی یی د نړې غوږونو ته رسیږي.

د امریکی سرې خوره امپریالیسم ګټی په ورانې، بی اتفاقی، جګړو، خپل منځې وژنو، بی قانونیت، بی عدالتی، جهالت، درغلې، غولونه او ژوی توب کښی نغښتی دې، هغوی ته پرمختګ، هوساینه او ترقی یوه پلمه ده او یواځی دهغوی ټولی مرستی دهغوی د افغانی مزدورانو او دهغوی په ګټه دې.

دا دی دا اوس دکابل ښار او نور ښارونو کښی هم امن او امان نشته او هیڅ هوښیاراو با درکه انسان ته په کار دې چی ددوی څخه د امن او امان انتظار هم ونلری.

هماغه شانته چی روسانو غوښتل چی د افغانستان څخه د خیزد تختی په شان ګټه واخلی او هغوی غوښتل چی د هندو تودو اوبو او خپلو نورو استعماری ګټو ته ورسیږې؛ دا دی په ډاګه لیدل کیږې چی امریکائیان او دهغوی نور ملګری هم د افغانستان څخه غواړې چی د منځنی آسیا د تیلو او نفتو ځیرمو ته ورسیږې او ایران، روسیه، چین او داسی نورهیوادونه د دی ځایه تر توری او بریښ لاندی ونیسی؛ له دی کبله دی چی دوی نشی کولای چی دا شانته لاس پوڅی سیمه ایز حکومتونه په افغانستان کی جوړ کړې چی افغان ولس ورته اړتیا لری.

څرنګه چی د سازمان په بیلابیلو لیکنو او لارښودونو کښی ویل کیدل چی امپریالیسم یوه ډیرسر لرونکی اژدها ده چی په بیل بیل تاکتیکونو او پلمو کار کوې، ځان په انسانی سرخابونو، ولس غولونکو شعارونو او... سمبالوې او د خپل افغانی مریانو ـ مجاهدینو، طالبانو، تکنوکراتانو، خلقیانو/ پرچمیانو، کین لاسه پلورل شوو مزدورانو، داعش او داسی نورو بی پته او بی شرمه ګوډاګیانو ـ په مرسته د خپل شتون او ځواکمنی ته قانونیت په برخه کوې.

هوکی ګرانه لوستونکیه!

که وغواړې چی یوه شی چی د دې روان او بدمرغه ناورین او بی وسی نه د وتلو لیارکومه ده ؟ چا ته پناه یوړو؟ د چا څخه مرسته وغواړو؟ د نجات او خلاصون لیاره کومه ده؟ څه وشي چه بیا ونه غولیږو؟ څه وکړو چی تل تر پایه سولی او هوساینی ته ورسیږو؟ کوم سیاسی سازمان او خوځښت کولای شي چی مونږ ته همیشنی دخلاصون لیار راوښیی؟ او دسی نور...، زما په اند او فکر څه چی د افغانستان د څو لسیزو تجربو راوښودله چی یواځی د مجید انقلابی فکر او اندیښنی چی دهغه په سازمان او نورو انقلابی قوونو کی شتون لری، کولای شی چی دا هیواد رښتینی خپلواکی او هوساینی ته ورسوې او نورې ټولی لیاری مو په نویو کندو او د یرغلتوب کندو ته مخ کوې.

تر څو چی د یرغلګرو ظلم او زیاتی وې، دافغان ولس مندی او هلی ځلی به دخلاصون د پاره دوام لري. دا ولس چی هر څومره بی وسه او بی لارښوده وې، خو خپلواکي غوښتنه د هغه د ژوندون په ختمه کښی نغښتی او پری مین دې، خپل منزل ته به یوه ورځ رسیږي. دهغی ورځی په هیله.

مړدی وي نړی خوره امپریالیسم او دهغه مرستیالان!

مړه دی هغه افغان هیوادپلورونکي چی امپریالیسم سره سمون او یووالی لري!

تل پاتی دی وي خپلواکي او رښتینی هوساینه او ټولنیز- اقتصادی پرمختګ!